# د طالبانو د محکمو د «جزايي اصولنامې» د پلي کېدو د پايلو په اړه مطبوعاتي اعلاميه

۲۱/۰۱/۲۰۲۶

رواداري په دې وروستيو کې د طالبانو د محکمو د «جزايي اصولنامې» يوه نسخه ترلاسه کړې، چې څرګندوي دا سند د دې ډلې د مشر ملا هبت‌الله له لوري تر لاسليک وروسته، د قضايي بنسټونو د پلي کېدو لپاره ولايتونو ته لېږل شوی دی. ياده اصولنامه په ۳ بابونو، ۱۰ فصلونو او ۱۱۹ مادو کې تدوين شوې ده.

د دې اصولنامې منځپانګه خورا د اندېښنې وړ ده او له نړيوالو حقوق بشري معيارونو او د عادلانه محاکمې له بنسټيو اصولو سره په ښکاره ټکر کې ده؛ ځکه چې د دغه سند له مخې، د مذهبي اقليتونو پر وړاندې تبعيض او د افرادو د اساسي ازاديو ځپل رسمي او قانوني بڼه خپلوي، چې پکې د انساني کرامت نقض، د بيان او فکر د ازادۍ نقض، او خپلسرې نيونه او مجازات شامل دي.

دا سند د عادلانه محاکمې له هېڅ يوه لومړني معيار سرهبرابر نه دی، چې پکې د قانون پر وړاندې د ټولو د برابرۍ اصل، د جرم او مجازات د قانوني‌والي او شخصي‌والي اصل، د برائت‌الذمه اصل، د شکنجې منعه، له خپلسري توقيف څخه ازادي، د چوپتيا حق او د اغېزناکې دفاع حق شامل دي. همدارنګه، د دې اصولنامې په هېڅ برخه کې د مدافع وکيل درلودلو حق، د سکوت حق او د تاوان د جبران حق په رسميت نه دي پېژندل شوي، او د يوې منصفانه محاکمې نور کم تر کمه الزامات هم تضمين شوي نه دي.

همدارنګه، يادې اصولنامې د مجازاتو کم تر کمه او زيات نه زيات حدونه هم نه دي ټاکلي او د جنايي اعمالو د اثبات لپاره د خپلواک تحقيق د بهير په لرې کولو سره، «اقرار» او «شهادت» يې د جرم د اثبات د اصلي لارو په توګه معرفي کړي دي؛ هغه څه چې د شکنجې، جدي ناوړه استفادې او د تورنو د حقونو د پراخې سرغړونې خطر زياتوي.

## د مذهبي تبعيض او د ديني ازاديو د ځپلو د لا سختېدو خطر

د طالبانو د محکمو د جزايي اصولنامې د ۲مې مادې اتم بند، د حنفي مذهب پيروان مسلمانان ګڼي او د نورو مذهبونو او له «اهل سنت والجماعت» سره د بېلابېلو او مخالفو باورونو لرونکي کسان د «مبتدع» يا بدعتي په توګه نوموي. دا تبعيض‌امېزه طبقه‌بندي په هغه هېواد کې چې ګڼ مذهبي اقليتونه پکې ژوند کوي؛ له هغې ډلې د دولس امامي شيعه‌ګانو، اسماعيليانو، د اسلام د نورو فکري لارو لکه د اهل حديث پيروانو، همدارنګه سېکانو او هندوانو سره، په مستقيم ډول د دين او مذهب پر بنسټ د تبعيض نه کولواصل نقضوي. د «بدعتي» د ټاپې لګول او طالبانو ته د قضايي بنسټونو له‌خوا د نامحدودو صلاحيتونو ورکول، چې وروسته به يې يادونه وشي، د مذهبي اقليتونو پر وړاندې د پراخې ځپنې، له قانوني ملاتړ څخه د محروموالو او د خپلسرو مجازاتو د پلي کېدو زمينه برابروي.

سربېره پر دې، د اصولنامې ۱۴مه ماده حکم کوي چې د «عامه منفعت» د تأمين لپاره د مجرمينو وژل، د هغو کسانو چې «د اسلام خلاف له باطلو عقيدو دفاع کوي» يا «نور کسان دغو عقيدو ته رابولي» (مبتدعينو او مفسدينو) په ګډون، د «امام» په اجازې جايز بلل کېږي. همدارنګه، د ۱۷مې مادې دويم بند د يو عمومي حکم له مخې، د اسلامي احکامو په اړه «تمسخر» او «استهزا» د مجازات وړ بللي او د دې عمل د مرتکبينو لپاره يې د دوو کلونو د بند سزا ټاکلې ده. په دې ماده کې د «تمسخر» يا «استهزا» د تشخيص لپاره هېڅ معيار نه دی معرفي شوی، او قاضيانو ته پراخ او سليقه وي اختيار ورکوي چې يوازې د بېلابېلو او انتقادي نظرونو د څرګندولو له امله افراد مجازات کړي.

د دې سند په ۲۶مه ماده کې راغلي چې د حنفي مذهب پیروان اجازه نه لري خپل مذهب پرېږدي، او که چېرې دا موضوع د قاضي په وړاندې ثابته شي، نو د دوو کلونو د بند په سزا محکومېږي. دا حکم، سره له دې چې د دین او عقیدې د ازادۍ ښکاره نقض ګڼل کېږي، په ځانګړې توګه سلفیان او اهل حدیث د خپلسرو نیولو، محاکمې او مجازاتو له جدي خطر سره مخ کوي؛ هغه خطر چې د تېرو څلورو کلونو په لړ کې د دغو افرادو پر وړاندې د طالبانو د چلند له مخې، واقعاً او د اندېښنې وړ دی.

د پورته یادو شویو مواردو ټولګه، د مدني فضا د لا زیاتو محدودولو، د دین او عقیدې د ازادۍ د پراخې ځپنې، د خپلسرو نیونو د زیاتوالي، شکنجې، او په ځانګړې توګه پر مذهبي اقلیتونو د فشار شدت لا پسې زیاتوي.

## د خپلسرو نیونو او مجازاتو لا سختېدل

د ۲مې مادې یوولسم بند، د «باغي» په توګه د «ساعي بالفساد» تعریف وړاندې کوي او په صراحت بیانوي چې «د دوی زیان عام دی او له وژل کېدو پرته نه اصلاح کېږي.» دا حکم د طالبانو قضایي بنسټونو او نورو ادارو ته پراخ او خطرناک صلاحیت ورکوي، څو مخالفان، منتقدان او د بشري حقونو فعالان تر همدې عنوان لاندې، د دفاع د حق او د عادلانه محاکمې له هر ډول تضمین پرته، ووژني.

سربېره پر دې، د ۴مې مادې شپږم بند کې ویل شوي چې هر مسلمان «هر کله چې ګناهکار کسان د ګناه د ترسره کولو پر مهال وویني، اجازه لري د هغوی د مجازات کولو اقدام وکړي»؛ هغه څه چې آن عادي افرادو، د امر بالمعروف مامورینو او له طالبانو سره همغږو روحانیونو ته هم د نورو د مجازات کولو صلاحیت ورکوي. دا احکام په جدي توګه د شخصي ازادۍ او امنیت حق، انساني کرامت، د خپلسري توقیف او مجازاتو د مخنیوي اصل، او عادلانه محاکمې ته د لاسرسي حق نقضوي.

له بلې خوا، د ۲مې مادې په ۱۴ بند کې ویل شوي چې د «حدودو او دیت» په جرمونو کې یوازې «خپله جرم» ته پاملرنه کېږي، نه د «مرتکب شخصیت» ته؛ حال دا چې دا تګلاره د عادلانه محاکمې له الزاماتو سره همغږې نه ده، ځکه چې د جزایي حقوقو د معیارونو او ستندردونو له مخې د جزایي مسئولیت ارزونه د مرتکب ذهني حالت، وړتیا او ارادې ته پاملرنه اړینه ګڼي. د داسې مهمه چاره ده چې له پامه غورځول یې د منصفانه رسیدګۍ تضمینونه او د عادلانه محاکمې موازین تر پښو لاندې کوي.

د دې سند ۵۹مه ماده د «نڅا» او «د هغې د ننداری» جرم تصویبوي، پرته له دې چې د دې مفهوم لپاره کوم روښانه، دقیق او قانوني تعریف وړاندې کړي؛ له همدې امله د جرم او مجازاتو د قانونيوالي بنسټي اصل او د برائت‌الذمه اصل له پامه غورځوي، او په دې توګه قضایي چارواکو ته دا صلاحیت ورکوي چې د افرادو شخصي ازادي او امنیت په سلیقه وي ډول سلب کړي. په داسې شرایطو کې، افراد ښایي د سیمه‌ییزو نڅاوو د ترسره کولو له امله، چې د هغوی د دود او د ژوند د طریقې یوه برخه بلل کېږي، ونېول شي او مجازات شي.

همدارنګه، د یادې اصول‌نامې ۱۳مه ماده د یوې عمومي اشارې له لارې او پرته له دې چې کوم اړین وضاحت وړاندې کړي، د «د فساد د ځایونو» د ویجاړولو خبره کوي؛ دا چاره د جرم او مجازات د قانونيوالي او شخصيوالي اصل، او همدارنګه د برائت‌الذمه اصل نقضوي. د «فساد» د مفهوم د پراخ او عمومي تعبیر له امله، دغه حکم کېدای شي د سلمانیانو او سینګار ځایونو په څېر ځایونو ته هم وغځېږي او د هغوی مالکین د شخصي مسئولیت له اثبات پرته مجازات کړي.

هممهاله، د ۴۰مې مادې له مخې، هر هغه شخص چې د «فساد په مجلس» کې—پرته له دې چې د «فساد» مفهوم روښانه شوی وي، حتا که په غیر ارادي ډول هم حاضر وي، د فساد په عمل کې شریک بلل کېږي او د مجازات وړ ګرځي. دا حکم هم د جرم او مجازاتو د شخصيوالي له اصل او د برائت‌الذمه له اصل سره په ټکر کې دی؛ ځکه چې د دې مادې له مخې، د قصد، پوهاوي او د فرد د رول له اثبات پرته پر هغه جزایي مسئولیت تحمیلېږي.

## د ټولنیزې طبقې د پېژندنې او د افرادو د «ازاد» او «مریي» په توګه وېش ته رسمیت ورکول

سره له دې چې انساني کرامت او د ټولو انسانانو برابري، د تبعیض مخنیوی او د غلامۍ مطلق منعه کول، د بشري حقونو له اساسي اصولو او د نړیوالو حقوقو له آمره قواعدو څخه شمېرل کېږي، د طالبانو د محکمو د جزایي اصولنامې ۹مه ماده ټولنه په عملي توګه په څلورو ډلو وېشي: «علما»، «اشراف»، «منځنۍ طبقه» او «ټیټه طبقه». د دې مادې له مخې، که یو ډول جرم ترسره شي، د مجازات ډول او شدت د ترسره شوي جرم د ماهیت پر بنسټ نه، بلکې د مرتکب د ټولنیز مقام له مخې ټاکل کېږي. د بېلګې په توګه، که یو جرم د یوه دیني عالم له لوري ترسره شوی وي، یوازې په نصیحت بسنه کېږي، او که له اشرافي طبقې څخه وي، نو محکمې ته په احضار او سپارښتنې بسیا کېږي. خو که همدا جرم د «منځنۍ طبقې» د افرادو له لوري ترسره شي، په بند محکومېږي، او که د ټولنې د «ټیټې طبقې» د افرادو له خوا ترسره شوی وي، نو له بند سربېره د بدني مجازاتو سزا هم ورکول کېږي. دا حکم نه یوازې د «ټولنیزې طبقه‌بندۍ» تبعیض‌امېز مفاهیم په رسمیت پېژني، بلکې په مستقیم ډول د قانون پر وړاندې د افرادو د برابرۍ اصل، د تبعیض د مخنیوي اصل، د جرم او جزا د تناسب اصل، او د ظالمانه او غیرانساني مجازاتو مخنیوی هم نقضوي.

سربېره پر دې، یاده اصولنامه د «غلام» د کلمې په څو بېلابېلو برخو کې په کارولو سره، غلامۍ ته هم مشروعیت وربخښي. لکه څنګه چې په ۱۵مه ماده کې راغلي دي: «په هر هغه جنایت کې چې ورته «حد» نه وي ټاکل شوی، د تعزیر حکم پرې کېږي، که جنایت‌کوونکی ازاد وي او که غلام...». همدارنګه، د ۴مې مادې په ۵ بند کې راغلي چې د «حد» مجازات د «امام» له خوا او د «تعزیر» مجازات د «مېره» او «بادار» له خوا تطبیق کېدای شي.

د افرادو د ازاد او مریي په توګه تعریفول او په دې اصولنامه کې د «غلام» د کلمې ښکاره یادونه، د داسې یو حقوقي وضعیت د رسمیت پېژندنې معنا لري چې په مطلق ډول منعه شوی دی، او د برابرۍ له اصل، انساني کرامت او د بشري حقونو له ټولو بنسټیو موازینو سره په ښکاره ټکر کې قرار لري. غلامي په نړیوالو حقوقو کې په مطلق ډول او په هر حالت کې منعه شوې ده او د نړیوالو حقوقو د آمره قواعدو له ډلې شمېرل کېږي.

## د بدني مجازاتو زیاتوالی

په ۱۸مه ماده او نورو مادو کې، د دُرې د مجازاتو په ډېر پراخ ډول او پرته له روښانه محدودیتونو څخه وړاندوینه شوې ده. دا مجازات، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د نورو کسانو په حضور کې عملي کېږي، د بدني مجازاتو او سپکوونکي چلند ښکاره بېلګه ده او د انساني کرامت له اصل او د شکنجې او ظالمانه مجازاتو له مطلق ممنوعیت سره په ټکر کې ده. د داسې مجازاتو پراخول په قانون کې، د طالبانو په قضایي نظام کې د سیستماتیک تاوتریخوالي د عملي کېدو او د بشري حقونو له ارزښتونو سره د مغایرو چلندونو د بنسټي کېدو خطر په جدي توګه زیاتوي.

## د بیان د ازادۍ ځپل او له طالبانو سره د مخالفت او نیوکې جرم ګڼل

په ۱۹مه ماده کې راغلي چې که هر څوک داسې «مباح عمل» ترسره کړي چې د طالبانو د مشر له لوري منعه اعلان شوی وي، یا د «مباحو چارو» په اړه نیوکه او اعتراض وکړي، مجرم بلل کېږي او د مجازات وړ ګرځي. اصلي اندېښنه د دې حکم عمومي‌والی دی، چې واکمنو مقاماتو ته نامحدود واکونه او د ناوړه استفادې امکان برابروي؛ ځکه د تېرو کلونو تجربو ښودلې چې د طالبانو له نظره د ښځو د تعلیم منعه کول هم د «مباحو چارو» یوه برخه ګڼل شوې، او اوس د همدې اصولنامې له مخې، پر دې موضوع نیوکه کول په رسمي او قانوني ډول د مجازات وړ ګرځېدلې دي. دا حکم په مستقیم ډول د بیان او اند د ازادۍ حق نقضوي او د طالبانو د سیاستونو په اړه د خپلو نظرونو د څرګندولو له امله د وګړو د تعقیب، نیولو او خپلسرو مجازاتو زمینه برابروي.

همدارنګه، د یاد سند د ۲۳مې مادې دویم بند حکم کوي چې «هغه کسان چې د طالبانو مشرانو ته سپکاوی کوي» د شلو دُرو وهلو او د شپږو میاشتو بند په سزا محکومېږي. دا ماده، سربېره پر دې چې د مخالفو او انتقادي نظرونو د ځپلو لپاره د طالبانو قاضیانو ته پراخ او نامحدود صلاحیتونه ورکوي، همدارنګه د بیان د ازادۍ د حق د لا زیات نقض لامل هم ګرځي. د دې حکم پر بنسټ، د طالبانو پر چارواکو او مشرانو نیوکه، مخالفت او یا د اعتراضي نظرونو څرګندول جرم ګڼل شوي دي، او اوس قضایي مقامات په عملي ډول قانوني وسیله په لاس کې لري چې د مخالفو غږونو د ځپلو او د مدني فضا د لا محدودولو لپاره ترې کار واخلي.

د دې اصولنامې د ۲۴مې مادې له مخې، که یو شخص د «نظام د مخالفانو د خرابکارانه ناستو او فعالیتونو» شاهد وي یا ترې خبر وي، خو خپله د هغوی پر وړاندې اقدام ونه کړي او یا د طالبانو اړوندو ادارو ته خبر ورنه کړي، مجرم بلل کېږي او قاضي کولای شي «شاهد» او «خبر لرونکی» په تر دوو کلونو بند محکوم کړي. د دې مادې له مخې، ټول وګړي مکلف ګرځول شوي چې اړوندو ادارو ته د طالبانو د مخالفانو د تحرکاتو خبر ورکړي، او که داسې ونه کړي نو مجازات به شي؛ هغه څه چې د شخصي ازادۍ او امنیت د حق د پراخ نقض، او د افرادو د خپلسرو نیونو او مجازاتو لامل ګرځي. له بلې خوا، دا اصل د نړیوالو بشردوستانه بشري حقونو له اصولو سره هم په ټکر کې دی، ځکه چې دغه اصول د ملکي وګړو پر بې پرې والي ټینګار کوي، او د همدې له امله د هغوی مصونیت له جدي خطر سره مخ کوي.

## د ښځو او ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لا سختېدو او بنسټي کېدو خطر

د دې سند ۳۰مه ماده یوازې د ښوونکو له لوري پر ماشومانو د فزیکي تاوتریخوالي ځینې بڼې منعه کوي، لکه هغه موارد چې د «هډوکو ماتېدو»، «د پوستکي شرېدو» یا «د بدن د شین کېدو» سبب شي، او د فزیکي تاوتریخوالي نورې بڼې، رواني تاوتریخوالی او جنسي تاوتریخوالی په څرګند ډول نه منعه کوي. له همدې امله، د طالبانو د محکمو جزایي اصولنامه د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مطلق منعه کولو پر ځای، د ځورونې، ناوړه چلند او د ماشومانو د تنبیه نورو بڼو په غیر مستقیم ډول مشروعیت وربخښي. دا تګلاره د ماشومانو د ځانګړي ملاتړ له اصل او د هغوی د انساني کرامت له اصل سره په ټکر کې ده. همدارنګه، په ۴۸مه ماده کې راغلي چې پلار کولای شي خپل لس کلن زوی د هغه د «مصلحت» په نوم، لکه د لمانځه پرېښودل او ورته نورو مواردو له امله، مجازات کړي.

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه هم یادې اصولنامې تبعیض‌امېز چلند او درېځ غوره کړی دی؛ ځکه چې د ۳۲مې مادې له مخې، یوازې هغه مهال چې مېړه ښځه په لرګي ووهي او دا عمل د سخت ټپي کېدو لامل شي، لکه «زخم» یا «د بدن شینوالی»، او ښځه وکولای شي دا موضوع د قاضي په مخ کې ثابته کړي، مېړه به د پنځلسو ورځو د بند په سزا محکوم شي. سره له دې، د ښځو پر وړاندې د فزیکي تاوتریخوالي نور ډولونه، رواني تاوتریخوالی او جنسي تاوتریخوالی په څرګند ډول منعه شوي نه دي او په دې سند کې تر ډېره له پامه غورځول شوي دي.

سربېره پر دې، د مې۴ مادې په ۵ بند کې د حد او تعزیر د توپیر په اړه ویل شوي چې «د حد مجازات د امام له خوا» او «د تعزیر مجازات» د «مېړه» او «بادار» له خوا عملي کېدای شي؛ دا حکم په مستقیم ډول د مېړه له لوري د کورني تاوتریخوالي د ترسره کولو امکان مشروع ګڼي.

همدارنګه، په ۳۴مه ماده کې راغلي چې که یوه ښځه په تکراري ډول د مېړه له اجازې پرته د خپل پلار کور یا د نورو خپلوانو کور ته ولاړه شي او د مېړه له غوښتنې سره سره بېرته د خپل مېړه کور ته را و نه ګرځي، نو ښځه او د هغې د کورنۍ یا خپلوانو هر هغه غړی چې د هغې د مېړه کور ته د تګ مخه یې نیولې وي، مجرم بلل کېږي او د درې میاشتو بند په سزا محکومېږي. دا حکم، په ځانګړې توګه د هغو ښځو په اړه چې د مېړونو له تاوتریخوالي او ناوړه چلند څخه د پلار او خپلوانو کورونو ته پناه وړي، هغوی د لا زیات تاوتریخوالي او ناوړه چلند له خطر سره مخ کوي.

د دغو ټولو احکامو مجموعه د برابرۍ له اصل، د جنسیت پر بنسټ د تبعیض د مخنیوي له اصل، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي اصل او د انساني کرامت له حق سره په ښکاره ټکر کې ده، او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لا سختېدو او بنسټي کېدو خطر په جدي توګه زیاتوي.

سره له دې ټولو، د طالبانو د محکمو د جزایي اصول‌نامې پلي کېدل، په داسې شرایطو کې چې هېڅ خپلواک او اغېزناک کورنی څارنیز مېکانېزم نشته، په جدي توګه د بشري حقونو د سرغړونو د زیاتېدو، د وګړو د اساسي ازادیو د پراخې ځپنې، ناوړه استفادې او د بې‌قانونۍ د پراختیا لامل کیږي. په داسې وضعیت کې به دا سند په یقیني توګه د سازمان شوې ځپنې د قانوني کولو، د بشري حقونو د معیارونو د نقض او د عادلانه محاکمې د اصولو د تر پښو لاندې کولو لپاره د یوې وسیلې په توګه وکارول شي.

رواداري، د طالبانو له لوري د محکمو د جزایي اصولنامې د پلي کېدو پر سمدستي درولو د ټینګار تر څنګ، له نړیوالې ټولنې، ملګرو ملتونو او نورو اړوندو نړیوالو بنسټونو هم غوښتنه کوي چې د دې اصولنامې د تطبیق د مخنیوي لپاره له ټولو قانوني وسایلو کار واخلي. موږ همدارنګه پر خپل دې تعهد ټینګار کوو چې د طالبانو پر چلند او د دې اصولنامې د پلي کېدو پر پایلو به دوامداره څارنه کوو، او خپلې موندنې به د منظمو رپوټونو له لارې له رسنیو، د بشري حقونو له سازمانونو او ښاریانو سره شریکې کړو.

پای